مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ٢٠٢٣/٠٥/٠٣

# یاد ماضي

زمونږ د اول ملاقات
او د لومړي ټکر
سپېره میدان ته ځیر یم
مخ ته مې ځونږ د ادم زادو جوړ دی
او چارچاپېره را نه څو څو مختلف وارډونه
د ناروغانو ډک دي
چې د دردو چیغې یې
زما اندرون وژني
د ټکر ځای کې د پیپل تر ګڼو څانګو لاندې
یو ګونګ شاعر ناست دی
خو ځواک یې نشته چې سندره د ژوندون ولیکي
او څانګو کې ناست مرغان په شور راولي
مین شاعر ته دې بیلتون نامرده
داسې ډالۍ ورکړه
چې اوس یوه خبره هم په خو کلو کې کوي
هغه خبره هم په داسې انداز
چې دنیاوال ترې هیڅ مطلب وانخلي
هو نو
له دې خبرې به
مونږ ته څه خاصه معنا
کله را ووځي چې:
هغه بیا لاړه او ما ژوند پرېښود!

سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ